مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۶/۱۰/۳۱

د نوي‌نسل په روزلو کې د ادبياتو رسالت

د جرمني په کولن ښار کې کونړ کولتوري‌ټولنې پتيلې ده چې د ۲۰۲۶ ام کال د اکتوبر پر يودېرشمه نېټه د کونړسيند کلنيو دوديزو مشاعرو په لړ کې «په المان کې پوهنيزه، ادبي او هنري غونډه» جوړه کړي. دا مقاله د يادې درنې غونډې د پوهنيزې برخې لەپاره ليکل شوې ده.

(آصف بهاند)

زه په دې عقيده يم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نيالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چينه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!

(آصف بهاند)

د هر هنر او هر علم د ترلاسه‌کولو او د هرکار د ترسره کولو لەپاره په لومړيګام کې سواد، تعليم او پرلەپسې مطالعه اړينه ده او د يادو شرطونو د بنسټ ډبره ادبيا ت دي، يعنې د هرڅه پيل په ادبياتو سره کېږي.

د نوي‌عصر غوښتنه دا ده چې د ادبياتو په دايره کې بايد هغه ليکل‌شوي او تخليق‌شوي شيان شامل کړای شي چې په سم، علمي او مدرن لوري د نوي‌نسل په لارښوونه کې اغيزناک وي. ادبيات بايد نوي‌نسل ته د تېرونسلونو د مثبتو تجربو يوروښانه انځور په مخکې کېږدي او داسې ډيوه په لاس کې ورکړي چې نوي نسل ته د پرمختګ لاره روښانه کړای شي.

د ادبياتو پېژندونه او مهمواليو:

په پيل کې د ادبياتو تعريف او د ادبياتو د دندو، مهمواليو او رسالت په باب دغو لاندې خبرو ته پاملرنه وکړئ:

هرليکلي اثر ته ادبيات ويل کېږي.

ادبيات د بشريت يوه اړتيا او د ځوان نسل د روزنې لەپاره يوه اړينه عاطفي وسيله ده. د همدې منل شوي اصل له مخې لويو ليکوالو تل د ادبياتو پراړتيا ټينګار کړی دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د وييونو يا کلماتو په جامه کې د انساني افکارو، احساساتو او تجربو د لېږدولو هنر ته ادبيات ويل کېږي.

ادبيات د انسان د ذهن ترټولو اساسي او اړين فعاليت ګڼل کېږي.

ادبيات تر ټولو ښه او داسې مهربانه ښونکی دی چې مور ته په ټولنه کې شته توپيرونه او د ټولنې ټوله تيره کولتوري ــ فرهنګي شتهمني او تجربې رابنيي.

ادبيات يوازې د شعرونو، کيسو او ليکنو ټولګه نه ده، بلکې د انسان د فکر، احساس، اخلاقو او ټولنيز شعور د روزنې يوه اغېزمنه وسيله هم ده.

په ادبياتو کې يوه مهمه برخه ليکل دي، ليکل رواني روغتيا ته ګټې لري، ليکوال د نورو د پوهولو ترڅنګ په حقيقت کې له ډيرو ستونزو ځان هم خلاصوي.

ژوند د ادبياتو په رڼا کې ښه پېژندل کېدای‌شي او انسان کولای شي د ادبياتو په مرسته ښه او ارامه ژوند وکړي، ښې زدکړه وکړي او نورو ته لا ښه لارښوونه وکړي.

ادبيات له مور سره مرسته کوي چې له فرهنګي فقر او د فکرکولو له فقر نه ځان وژغورو.

انسان ادبياتو ته د دې لەپاره پناه وړي چې خوشحاله او تکميل شي.

د ادبياتو لنډ عاميانه تعريف: ادبيات هغه کلام ته ويل کېږي چې د ورځنيو خبرو په پرتله هنري ارزښت ولري.

ادبيات علمي اړخ هم لري .هغه پوهنه چې دادبياتو په باره کې بحث کوي له هنري ادبياتو بېله ده .

دادبياتو علمي برخه په درېو لويو څانګو ويشلی شو:

ــ د ادبياتو تيوري،

ــ د ابياتو تاريخ،

ــ د ادبي آثارو کره کتنه.

د ادبياتو يوه موخه د انسان زدهکړه او تعليم دی، او په انسان کې د هنري خوند اخستلو احساس رامنځته کول دي.

ادبيات خوندور دي، او دا خوند بايد هرڅوک وڅکي.

د ۲۰۱۰ ام کال د ادبياتونوبل جايزې ګټونکی ماريو بارګاس يوسا په خپل مشهور اثر «ولې ادبيات» کې ويلي دي چې:

«ادبيات له جوړولو او ژوند نه پرته، بل څه نه دي... ادبيات د دې لەپاره مهم دي چې د انسانانو په فعاليتونو کې تر ټولو لومړنی او اړين فعاليت دی، له ادبياتو پرته نەشي کيدای چې يوروغ او له احساساتو ډک ژوند جوړشي...»

پخواني ادبي متون، مور لرغونو زمانو ته بيايي او زمور اړيکې له پخوانيو خلکو او د هغو له احساساتو او عواطفو سره تړي د هغوی د فکر له څرنګوالي نه مور خبروي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تکنالوژي د انسانانو تر منځ وحدت او یووالی نه شي رامنځته کولای، دا ادبیات دي چې د خلکو تر منځ مینه او یووالی رامنځته کوي. له ادبیاتو پرته ټولنه، ژوندۍ ټولنه نه ګڼل کېږي. د ادبیاتو لوستل د دې ترڅنګه چې خوندور کار دی، شخص دې ته اړباسي چې پوهشي: دی څوک دی، څهشی کوي او څه مسؤلیت لري؟

هغه څوک چې تل مطالعه کوي له کلماتو او ادبیاتو سره یې کار وي، د هغوی عواطف تل مثبت او انساني وي، په ټولنه کې د عاطفي ـ انساني اړیکو د استازو په ډول، انساني عواطف نورو ته هم لیږدوي، د نوي نسل او عامو خلکو په روزنه کې ښه رول لوبولای شي.

د ادبیاتو بله مهمه ګټه دا ده چې انتقادي ذهن روزي او د ناروا‌وو په مقابل کې انسان غږایستلو او بغاوت ته هڅوي.

ادبیات د ځوان نسل د متمدني روزنې، فکري ودې، اخلاقي اصلاح او انساني شخصیت د جوړولو په برخه کې خورا مهم او بنسټیز رول لري.

ادبیات د ځوانانو ذهنونه روښانوي، د فکر کولو ځواک یې پیاوړی کوي او د ژوند د پېښو په اړه د ژورې او منطقي ارزونې وړتیا ورښیي. کله چې یو ځوان ادبي آثار لولي، له بېلابېلو افکارو، تجربو او لیدلورو سره اشنا کېږي. په دې توګه، هغه زده کوي چې هره موضوع له څو اړخونو وڅېړي، د نورو نظرونو ته درناوی وکړي او د حقیقت د موندلو هڅه وکړي.

د ادبیاتو په پرلپسې مطالعې سره ځوان نسل له خپل ادبي میراث سره اشنا کیږي، له خپلې ژبې او کلتور سره یې اړیکه پیاوړې کېږي.

مطالعه د ځوانانو د لغتونو زېرمه ډیروي، د لیکلو او خبرو کولو وړتیا یې لوړوي او هغوی ته دا توان ورکوي چې خپل افکار په روښانه، منظم او اغېزمن ډول بیان کړي.

همدارنګه، ادبي اثار ځوانان هڅوي چې د انسانانو د چلندونو، ټولنیزو پېښو او اخلاقي ستونزو په اړه پوښتنې وکړي.

د ادبیاتو د لوستلو یو مهموالی دا دی چې لوستونکی د نورو انسانانو له احساساتو او تجربو سره اشنا کوي.

د نوينسل روزل، ستونزې او حلارې:

په اوسني عصر کې، په نوي او علمي بڼه، د نوي تکنالوژۍ په دایره کې، د نوي نسل روزنه یوه اړتیا ده. د نوي نسل د روزنې لپاره ادبیات یو له مهمو فکري او فرهنګي بنسټونو څخه دي. که علم انسان ته د نړۍ د پېژندلو وسایل ورکوي، په څنګ کې یې ادبیات ورسره مرسته کوي چې د انسان د احساساتو، تجربو، هیلو او کړاوونو په اړه ژور فکر وکړي.

کومو ستونزو کې چې نن افغانستان او افغانان را ایسار دي، له دې څخه د خلاصون تر ټولو غوره، کم مصرفه او له کشکړپه خالي او نرمه لار، د نوي نسل روزل دي.

ما د همدې نیک کار د یو لاروي په توګه له ډېرې مودې را په دېخوا د تعلیم د نهضت ملا تړلي، عملي او تبلیغي کار مې ورته کړی دی او د دې عملي کار په لړ کې مې د مطالعې د کلتور د عامېدو له پاره د خپل عملي کار په لړ کې لسګونه مقالې لیکلې او خپرې کړېدي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د تعليم د نهضت د پياوړو او مخکښو غړو د زدکړو او عملي کارونو د معرفۍ له پاره مې ګڼې مقالې د هغوی او نورو د لا تشويق په پار ليکلې دي او په وار ـ وار سره مې پر دې خبره ټينګار کړی دی چې:

زه ټوپکوال، وژونکی او قاتل قهرمان نه ګڼم، زما له پاره قهرمان هغه څوک دی چې د خرافاتو پر ځای د علم پلوي او لاروی وي، د سواد زدکړې ـ ښوونځي او پوهنځي پلوی وي، د پوهې د تر لاسه کولو او نوي نسل په روزلو کې عملي کار وکړي، زما قهرمانان هغه څوک دي چې د راکټونو په ځای کتابونه ويشي، ښونځي پرانيزي، په نوي ښه د نوي نسل د روزلو په فکر کې وي او عملي کار ورته کوي.

د ادبياتو د تعريف او ادبياتو د پاسنيو دندو، مهمواليو او رسالت په رڼا کې ويلای شو چې ادبيات د نوي نسل په روزلو کې ترټولو بنسټيزه اساسي دنده او مسؤليت لري.

ادبيات په هنري ژبه او لنډ ډول کولای شي ډير اوږده مطالب د يو ناول، لنډې کيسې يا په يوه شعري قالب کې بيان کړي. ترټولو ښه او غوره بېلګه يې د سليمان لايق **«د وينوواټ»** نومې قصيده ده. په دې قصيده کې شاعر توانيدلی دی چې د افغانستان د ورستيو سياسي ــ نظامي ناخوالو او غميزې تاريخ او د د دې وطن د ورانېدو تاريخ په هنري ژبه د يوې قصيدې په قالب کې انځور او نورو نسلونو ته يې پرېږدي.

موږ بايد د ادبياتو په چوکاټ کې داسې څه وړاندې کړو چې د افغان ټولنې د فرهنګي وضعيت ريښتينی حالت په کې څرګند شي چې د اوس لەپاره د انديښنې وړ دي، د دې ترڅنګه بايد د ځوان نسل د فکري روزنې لەپاره حلالاري هم وښودل شي.

د ځوان‌نسل د روزلو په برخه کې د ادبياتو د رول په باب په لنډ ډول بايد وويل شي چې ادبيات هغه وخت خپل بشپړ ارزښت څرګندوي چې واقعيت په کې څرګند شوی وي، دومره قوي او ريښتيني بڼه ولري چې د انسان له فکر سره خبرې وکړي، د هغه احساس راويښ کړي او د ژوند په اړه يې ژور تفکر ته اړباسي.

د دې پريکړه کول چې د ځوانانو په روزلو کې به د ادبياتو کوم ژانر ډېر مؤثر رول ولوبولای شي، يوځه ستونزمن دي؛ ځکه چې زموږ ټولنه د اوږدې جګړې په پايله کې له هره اړخه متضرره شوې ده، د ټولنيز ژوند هري برخې ته چې وکتل شي، شړېدلي ښکاري او په پای کې اوس ټولنه د هيڅ ډول ستندر معيار پيروي نه شي کولای؛ د سواد او زدکړو کچه د نورې دونيا او نورو ټولنو په پرتله ډېره ټيټه ده، د مطالعې کلتور حاکم نه دی او...

د همدې دلايلو له مخې زه حکم نه شم کولای چې د ځوان نسل په روزلو کې به د کوم ادبي ژانر رول ډېر اغيزمن وي، خو لنډ شعرونه او لنډداستاني ادبيات به اغيزمن وي.

د ادبياتو په مرسته به نوي‌نسل روزو، خو په دې لړ کې به د تعلمي نظام او تعليمي نصاب مسأله هم نه هيروو. د ۲۰۱۹ ام کال په مې مياشت کې ما د **«نوی‌نسل، زده‌کړه ــ مينه او دوښمني»** ترسرليک لاندې يوه مقاله خپره کړه، په دې مقاله کې د تعليمي نظام او تعليمي نصاب د مهمواليو ترڅنګ پر دې هم ټينګار شوی دی چې موږ بايد سم علمي او د وخت له غوښتنو سره‌سم تعليمي نظام او تعليمي نصاب ولرو.

د يادې مقالې په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«اصلي خبره په تعليمي نظام او تعليمي نصاب کي ده. که تعليمي نظام د نوي عصر له غوښتنو او پوښتنو سره سم وي او په تعليمي نصاب کي د نوي عصر د نويو علومو او پوهې تله درنه وي؛ نوی نسل به مو له ټولې نړۍ سره په ټولو برخو کې په سيالیو کې برابر وي؛ که نه حال به مو تل داسې وي لکه دا اوس چې دی.

جاپان تر موږ زيات د جګړې زور ولید، د اتم بم تر کچې يې اورونه وزغمل؛ خو د خپل تعليمي نظام په نوي کولو او اصلاح سره وتوانېدل چې د نړۍ له ټولو پرمخ تللو هېوادونو سره په ټولو ډګرونو کې داسې سيالي وکړي چې په هره برخه کې ورنه څو ګامه لا وړاندې هم ولاړ شي، د نړۍ په کچه د دويم اقتصاد خاوندان شي او په هره برخه کې له خپل هېواد نه د اعتبار يوه ښلګه جوړه کړي.

دغه راز جرمني د اوږدې خونړۍ جګړې په لړ کې لوټه ـ لوټه شو او هر څه يې له لاسه ورکړل، خو د تعليمي نظام او تعليمي نصاب په نوي کولو او د جګړې له نا خوالو نه په درس اخستلو او دوامداره کار او راتلونکې ته په اميد سره يې د جګړې ټول ټپونه او د هېواد ټولې ورانۍ ښېرته داسې ورغولې چې اوس د اروپا تر ټولو پرمختللې تکنالوژي لري او د اروپا تر ټولو څواکمن اقتصاد او پرمختللی بډای فرهنګ لري.

که هېواد، خلک او ټولنه ارامه وي، د بدلونونو او انقلابونو بادونه نه وي چلېدلي، نو ادبيات به په ارامه د خلکو او نوي نسل په پوهولو، ويښولو او روزلو کې خپله دنده ترسره کړي؛ خو که د سياسي ـ نظامي بدلونونو په اخوښب کې د ټوپک شپېلۍ وغږېده او د څو نااهلو او جاهلو حکمراني حاکمه شوه، بيا نو هيڅ کار په سمه توګه نه شي ترسره کيدای.

موږ او زموږ هېواد له بده شامته چې د آسيا د جګړو د لارو او تګراګ پر عمومي واټ کې موقعيت لرو، د دې پر ځای چې له خپل موقعيت نه مثبته ګټه اوچته کړو، د نا اهله، نا پوه او خرڅ شوو مشرانو د ناپوهۍ او د عامو خلکو د بېسوادۍ او نا پوهۍ په وجه، نه يوازې له ورانونکو جګړو نه پند نه اخلو، بلکې د جګړو په لړ کې خپل هېواد، خپله ورانوو او نور هم په څټ حرکت کوو. موږ هغو فکرونو او اشخاصو سره ځان پيوندوو او ور پورې نښلو چې د نړۍ په هيڅ ګوټ کې هغه فکر او هغه اشخاص اعتبار او چلش نه لري، خو موږ لا د سر او وطن د له لاسه ورکولو تر بريده وربانديې ولاړ يو.»

د دغسې نظامونو د حاکميت په دايره کې او د غرونو غرونو ستونزو په لړلو سره به موږ خپل نوی نسل څنګه وروزو. د همدې ستونزو عملي پايله دا ده چې په تېرو او اوسنيو نسلونو کې قاتلانو، ورانونکو او انسان وژونکو ته قهرمانان وايو او وربانديې ويارو. هيڅ کله مو د توليدي کار فکر نه دی کړی، هيڅ کله مو د توليدونکي، کارګر او بزګر درناوی نه دی کړی.

خپل اوسني تاريخ ته په کتو سره بايد دا اعتراف وکړو چې د ادبياتو له دومره قوت او مهموالي سره، سره زموږ ټولنې او خلکو ته وارد شوي دردونه او ټپونه په درملنه کې ادبيات پاتې راغلي دي، په دې چې اوس هم له قلم نه ټوپک او ټوپکي افکار برلاسي دي، د «وسله ګرځول سنت دي» فتوی ټوپکي مشرانو صادر کړې ده، د ښونکو د وژلو او ښوونځي سوځولو کار همدوی ثواب ګڼلی دی او...

په دغسې ماحول او په دغسې حاکم ذهنيت کې به ادبيات څنګه بريالي شي چې د نوي نسل د روزلو مسؤليت په بريالي ډول ترسره کړي؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مورِ د نورو بدمرغيو ترځنګه، دا دروند بار هم پر اوږو لرو چې له جګړې راپاتې د کونډو او يتيمانو لښکر لرو، په مخدراتو د روږدو ټولې نه، لښکرونه راته پراته دي؛ دا بار ډېر اوږمهاله او دروند دی، د وخت دولتونو او واکدارانود دي ستونزو د حل له‌پاره نه يوازې څه نه دي کړي، بلکې داسې څه يې کړي چې هم يې پرځان باندې او هم يې پر خپل هېواد باندې ريشخند وهلی دی. ما يې يوه بېلګه په خپله يوه مقاله ثبت کړې ده او داسې اشاره مې ورته کړې ده:

«وګورئ! عيني شواهد وايي چې د نشې د قرباني زلميو د غميزې خبر او د افغانستان د پارلمان د رئيس د پزې د درملنې خبر په يوه وخت ميډيا ته راغلی دی. په خبر کې راغلي دي چې دا په نوم مشران د خپلې درملنې په خاطر پردیو ډاکترانو ته ستاينليکونه ورکوي، د افغانستان د ولسي جرګې مشر د پزې له عملياتو نه وروسته د ولسي جرګې په استازيتوب هندي ډاکټر ته ستاينليک ورکړی دی.

وه د ولسي جرګې مشره؟ وه ماما، وه کاکا ، وه...
هوښياري او سر لوړی دا نه ده چې په پردي مُلک کې، پردیو ډاکترانو ته د خپلې پزې د درملنې په پار ستاينليک ورکړې، که هوښياريې او سر لوړی غواړې، داسې وکړه چې خپل نوی نسل وروزه چې کور دي، کلی دي، ښار دي او وطن دي له ډاکترانو ډک شي، نو بيا به ولې د پزې يو عادي خارښت له پاره پردي وطن ته روان وې ا و...

اصلي پوښتنه دا ده چې دا زلميان ولې په نشو روږدي کيږي؟ زه فکر کوم او عيني واقعيتونو هم دا ښودلې ده چې دا ډله نشه‌يان، نشه د خوند له پاره نه کوي، بلکې دا مظلوم ځوانان نور د هغه دروند رواني او فزيکي بار وړل نه شي زغملای چې له ټولنې او مشرانو ورته په ميراث پاتې وي...»

ما لا پخوا ويلي او ليکلي وو او اوس يې بيا په تکرار سره وايم چې: پر افغانستان باندې د جګړې ځونامي نه رازيږيدلې ګڼې نورې ځونامي‌ګاني راغلې او زمور ټولنه او خلک يې له هره اړخه ځپلي دي. زمور د ټولنې او هيواد د ټولو برخو بنسټونه يې ويجاړ کړي، په تيره ښوونه او روزنه چې پايله يې زمور د هيواد د څو نسلونو بې سواده يا کم سواده پاتې کيدل دي؛ خو له دې ټولو نا خوالو سره، سره زمور نوی نسل د زدکړو ليوال و او دی او هر کله او هر چيرې چې ډېر لږ امکانات هم ورته برابر شوي دي، له هغو نه په استفادې سره يې، پر ځان هر رنګ زحمتونه ګاللي دي او د نوي عصر نويو زدکړو ته يې د خپل تېټر او ذهن ور پرانستی دی او زدکړې يې کړې دي.

د نويو او عصري علومو په دايره کې روزل شوی نسل:

سره له دې چې زمور په وطن کې د تعليم او پوهې ترلاسه کولو شرايط ډېر خراب دي، د مادي او معنوي ژوند هرې برخې ته چې وګورې، شړېدلې ده، ملامت او سلامت هم معلوم نه دی او د هر څه پرې پرجګړې وراچول کېږي؛ خو زه خپله خوشبيني له لاسه نه‌ورکوم، زه د يو رسالتمن ښونکي په توګه، راتلونکې ته او نوي راجګېدونکي نسل ته هيله‌من يم، وينم يې او حس کوم يې چې د ناخوالو له توفانونو سره ـ سره؛ د سواد، ادبياتو، مطالعې او په ټول کې د تعليم په برکت داسې يوه نوي نسل سرراپورته کړی دی چې د زيار او زحمت په ګاللو سره به افغانان او افغانستان له نوې تکنالوژۍ سره پخلا کړي، د لازده‌کړو زمينې به برابرې کړي او د پوهې او تمدن له کاروان سره به يې مل کړي.

زه په جرأت سره وايم چې د دې نسل په سرلارو کې به ډېر کسان وي، خو زه به يې د مثال له پاره دا څلور نومونه ځکه يادکړم چې دوی عملاً ډېرښه ځليدلي دي:

لومړی: احمدولي اځکزي،

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دويم: جانداد جهاني،

دريم: آغا ملوک سهار،

څلورم: ډاکتر حنيف‌الرحمن حنيف.

تاسو که د څلورواړو ځوانو علمي ـ فرهنګي کادرونو کارنامې له نظره تيرې کړئ، وبه ګورئ چې تردې پورې پورې د رسيدو په لاره کې له دوی سره ادبياتو څنګه او څومره مرسته کړې ده.

د نوي نسل په روزلو کې د ادبياتو د مهموالي او رول پورې اړوند، غواړم د دې بحث د بڼه پای په موخه دلته د خپلو خبرو يوغورچاڼ وړاندې کړم چې ما د ځوکلونو په اوږدو کې د نوي نسل د روزلو په موخه د خپلو مقالو او کتابونو په ترڅ کې ويلي او ليکلي دي:

ـ زه په دې عقيده يم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نيالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چينه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ.

ـ په اوسني عصر کې، په نوي او علمي بڼه، د نوې تکنالوژۍ په دايره کې، د نوي نسل روزنه يوه اړتيا ده.

ـ د هغو خلکو او قوم تباهي ډيره نږدې ده چې له سواد، کتاب، مطالعې، تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

ـ دا ښه په ياد ولرئ: تر څو نوی نسل په نوي او مدرنه بڼه په سمه توګه و نه روزل شي، هيڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغيو سره لاس ګريوان اوسئ!

ـ د نـوي نسل د روزلو له پاره هـر پل چې اوچـتيږي، زه يـې داسې انګيرم چې د نـوي ژوند د کلا پر ديواله يوه نـوې او زرينـه خښته ايښودل کيږي.

ـ که په يوه ټولنه کې زدکړې او تعليم يافته خلک لږ او د ګوتو په شمېر وي يا هيڅ نه وي، هغه ټولنه او هغه خلک هره ورځ لا هر ساعت له لسګونو ستونزو سره په عملي ډول لاس ګريوان وي.

ـ په ټوله نړۍ کې دا يوه منل شوې خبره ده چې: چيرې چې ښوونکی وي، هلته ډيوې وي، هلته رڼا وي او چيرې چې ښوونکی نه وي، هلته نه ډيوې وي او نه د رڼا څرک.

ـ زه د يوښووونکي په توګه ځان مکلفګڼم چې د نوي نسل د روزنې او لارښوونې لەپاره ټول عمر د خپلو زده‌کړو، تجربو، مطالعې او پوهې په ملتيا د دوی په خدمت کې اوسم.

پای

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ